مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۱۱/۱۱

# ډیورنډ کرښې ته یوه بله کتنه

په افغانستان کې به د هیڅ ملي مسلې په باب د ډیورنډ د کرښې په څېر زیات بحثونه نه وي سوي. البته سره له هغه هم تر اوسه پوري د دې مهمې ملي مسلې په برخه کې ځینې غلط فهمي موجودې دي. همدا اوس ډېری افغانان په دې عقیده دي چې ډیورنډ د انګرېزانو او افغانستان د حکومت ترمنځ یوه موافقه وه چې ۹۹ کاله عمر یې درلود او باید چې د تیرې پېړۍ په ۱۹۹۳ کال کې لغو سوې وای. هیچا ځان ته دونه زحمت نه دی ورکړی چې دا ټرون یو ځل پخپله ولولي او وګوري چې په هغه ټرون کې د زمان د قید ماده له سره وجود نه لري. له بېسوادو خلکو او تنکیو زلمیانو څخه ګیله نه کوم بلکه ما پخپله له داسې کسانو څخه دا استدلال اورېدلی دی چې د عالي تحصیلاتو دعوه یې کوله.

پوهان مو په دې عقیده دي چې د افغانستان واکمنان د ډیورنډ د ټرون د لاسلیکولو په وخت کې پخپله تحت الحمایه او د انګرېزانو لاسپوڅي او معاش خواره وه نو بناءً د هغوی لاسلیک اعتبار نه لري او دا ټرون خپل قانوني حیثیت له لاسه ورکوي. او یا دا چې د دې ټرون له انګرېزي متن سره مل نقشه لاسلیک سوې نه ده ځکه چې امیر ملاحظات لرل. او دغه راز د ویانا د نړۍ وال کنفرانس په ۶ ماده کې راغلي دي چې یوازې یو خپلواک هیواد د ټرون د لاسلیک کولو صلاحیت لري نه تحت الحمایه هیواد.

زموږ دوستان په دې عقیده دي چې دا ټرون باید د یوه شخص یا پاچا، چې هغه هم تحت الحمایه وو، له خوا نه بلکه د یوه پارلمان له خوا او که پارلمان موجود نه وو نو د یوې لویې جرګې له خوا منظور سوی وای.

دا د ډیورنډ پر ظالمانه کرښې باندې داسې اعتراضونه دي چې هیڅوک سترګې ورباندې پټولای نه سي. خو زه وایم دا ټرون که قانوني دی که غیر قانوني دی. حتی که د افغانستان پارلمان او یا لویې جرګې هم تصویب کړی وای؛ دونه ظالمانه ټرون دی چې په نړۍ کې یې بل هیڅ مثال او ساری نسته. د نړۍ پر مخ باندې بله هیڅ داسې کرښه نسته چې یوه بېګانه هیواد، په وچ زور، د یوه قوم په منځ کې ایستلې او یو قوم یې په داسې حال کې پر دوو برخو وېشلی وي چې هیڅ ډول طبیعي یا توپوګرافیکي منطق، چې هغه د غرونو، غونډیو یا سیندونو وجود وي، ورته جوړ نه سي . او که دا ټرون غندل کیږي نو باید چې له دغې زاویې څخه وغندل سی نه د هغه د قانونیت او نه قانونیت له مخې ځکه چې زورور قوانین جوړوي خو ځانونه یې هیڅ وخت په عملی کولو مکلف نه ګڼي. زه ګومان کوم قانوني دعوه هغه وخت اقامه کېدلای سي چې مدعي علیه دعوې ته تیار وي. مدعي علیه د اورېدلو غوږ ولري او یا په نړۍ کې دونه څوک وی چې زموږ دعوه واوري او بیا نو موږ د یوه ټرون د قانونیت او مشروعیت او نه قانونیت دعوه را پورته کړو.

د ډیورنډ کرښه دونه ظالمانه او غیر منطقي ده چې حتی فریزر ټیټلر Fraser Tytler چې له ۱۹۳۵ څخه تر ۱۹۴۱ کال پوري په کابل کې د برتانیې سفیر وو اعتراف کوي چې دا کرښه هم د منطقي د خلکو د قومي جوړښت، هم د ستراتیژۍ او هم د جغرافیې له مخې غیر منطقي ده. دی وایي دا کرښه د اباسین حوزه پر دوو برخو وېشي او یو ملت نیمې کوي او حتی قبایل سره وېشي. دی وایي حیران دی چې عبدالرحمن خان دا کرښه څرنګه ومنله؛ البته یو امکان یې دا دی چې هغه به په نقشه نه وي پوهېدلی او غولېدلی به وي...Tytler. Afghanistan PP 188-89

ټیټلر وروسته لیکي چې نه عبدالرحمن خان او نه له هغه څخه وروسته حبیب الله خان د مداخلې نه کولو عبارت ته توجه کوله. دی وایي د افغانستان د واکمنانو په عقیده مداخله یوازې دا وه چې وسله واله قوتونه یوې سیمې ته واستوي او جنګ جوړ کړي. هغوی خپل دا عمل مداخله نه بلله چې د قبایلو مشران جرګو ته راوبولي او بیرته یې له ښو سوغاتونو سر ه رخصت کړي. ټیټلر وایي دا د امیر د پالیسۍ یوه اساسي برخه وه چې په خپلواکو قبایلو کې یې خپل نفوذ جاري ساتی او تل به له هغوی سره په تماس کې وو. هغه مخ



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

که موږ غواړو چي د ډیورنډ د کرښي مسله له حقوقي اړخه مطرح کړو نو باید دې سوال ته جواب ووایو چي انګرېزانو، په اسیا کي تر خپلي سلطې لاندي په کومه سیمه کي  کوم تړون د بشري یا بین المللي منل سویو قوانینو سره سم طرح کړی او لاسلیک کړی دی چي پاته سو د ډیورنډ تړون؟ هغوی پر کوم تړون باندي وفا کړې ده؟ د کوم تړون د لاسلیک کولو په وخت کي یې د هغه ملت اراده غوښتې ده؟ چي پاته افغانستان او د ډیورنډ تړون سو. انګلیسیان په سیمه کي تر ټولو زورور استعماري طاقت وو او د خپلو استعماري ګټو سره سم یې عمل کاوه. هغوی د خپلي خوښی سره سم پالیسی طرحه کولې او عمل یې ورباندي کاوه. دوی په اسیا کي درې ډوله عمومي پالیسی درلودلې د مخته تللو یا Forward Policy بیرته د اباسین خواته یا Back to the Indus او د علمي سرحد پالیسي Scientific Frontier Policy

Lt: General Macmunn. Afghanistan from Darius to Amanullah P225

له انګرېزانو څخه هیڅا داپوښتنه نه کوله او نه یې ورڅخه کولای سوای چي تاسي څوک یاست چي له اروپا څخه راغلي او د نورو پردیو قومونو په هیوادونو کي ځانونو ته سرحدات ټاکی او بیا هغه ته د علمي سرحد نوم ورکوی؟ تاسي ته د بل په خاوره او ښارونو کي د مخته تللو یا فارورډ جنګي پالیسی د پرمخ بېولو او د بېګناه اولسونو د قتلولو او بې عزته کولو حق چا درکړی دی؟ کله چي انګرېزانو د ۱۸۷۹ کال د مې په میاشت کي له یعقوب خان سره د ګندمک تړون، چي ډیورنډ یې ادامه ده، لاسلیک کړ نو پخپله د انګلیسیانو جنرال د افغانستان څخه د پښین او سیبی جلاکول داسی نامعقول کار وباله چي په هیڅ توګه توجیه کېدلای نه سي. Major- General J.G. Elliot. The Frontier 1839-1947 P 64 مګر دا یې قواله په چا یې منې. د زوراوبه مخ پر لوړه خیژي.

البته امیر عبدالرحمن خان، سره له هغه چي زموږ دوستان یې تحت الحمایه او ځیني یې لا ګوډاګی پاچا بولي، تر مرګه پوري د ډیورنډ تړون رعایت نه کړ او د عمر تر پایه پوری یې د انګرېزانو په ټاکل سوي قلمرو کي له پښتني قبایلو سره تماسونه ټینګول، ښورښونه یې حمایه کول او د ښورښونو له مشرانو سره یې مرستي کولې. البته کله چي به د انګرېزانو له قهر سره مخامخ سو او نور به نو پر افغانستان باندي د هغوی د حملې خطر لیده کېدی بیا یې له نرمي پالیسی او سیاست څخه کار اخیست. که انګلیسیانو له افغانانو سره پر خپلو قولونو او معاهدو باندي پښې ایښودلې او هر وخت یې، له خپلي خوښي سره سم، تېری ورڅخه کاوه نو امیرعبدالرحمن خان هم ، تر خپله وسه پوري، له هغوی سره تړون نه رعایتاوه.

امیر عبدالرحمن خان د پښتني قبایلو په ښورښونو کي مستقیمه برخه نه اخیستله مګر هیڅ وخت یې د هغوی له ملاتړ څخه لاس نه اخیست. امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۹۷ کال کي د ملکنډ او تیراه په ښورښونو کي مستقیمه برخه وانه خیستله مګر د مشهورو او د نفوذ څښتنانو ملایانو یوې غونډې ته یې وویل چي دا د ریښتونو مسلمانانو وظیفه ده چي کافران قتل کړي. امیر دغه راز د جهاد د تبلیغ لپاره یوه رساله خپره کړه او د انګلیسیانو د سرسخته دښمن ملا نجم الدین اخوند چي د هډې په ملا صاحب مشهور وو او د ملا سید اکبر اپرېدي سره یې مرستي کولې. دوی دواړه او د ښورښ نور مشران د امیر له سپه سالار غلام حیدرخان سره په تماس کي ول او داسي رپوټونه خپاره سول چي له افغانستان څخه ۱۵۰۰ تنه ملایان د ډیورنډ تر پولې تېر سوي او د انګلیسیانو پر ضد په جګړو کي یې برخه اخیستې ده. Maj- General J.G. Elliot. The Frontier 1839-1947 P 47

۱۸۹۷ کال تقریباً ټول د هند د ویسرا او امیرعبدالرحمن خان تر منځ، په قبایلي سیمو او پېښور کي، د ښورښونو او په هغو کي د افغانانو د برخي اخیستلو په باب یوه بل ته په لیکونو تېر سو. د پېښور کمیشنر د ۱۸۹۷ کال د اګست په میاشت کي امیرعبدالرحمن خان ته ولیکل چي « ویسرا هدایت ورته کړی دی چي تاسي جلالتمآب ته ولیکم چي موږ له یو شمېر منابعو څخه داسي اطلاعات ترلاسه کړي دي چي وایی ډېر زیات شمېر افغانانو د هډې له ملا سره لاسونه یو کړي او د شبقدر پر پوسته باندي په حمله او د برتانیې د شنکرګهړ د کلي په سوځولو کي برخه درلودلې ده. رپوټونه دغه راز وایی چي د جلال آباد له ټولو سیمو او د چاردهی، امبارخانه، باسول، ګیردي غوث، سرکاني او لالپوره څخه افغانانو په ښورښونو کي برخه اخیستې ده او رپوټونه لا دا هم وایي چي د افغانستان یو شمېر سپاهیانو په ملکي لباسونو کي په دغو ښورښونو او حملو کي برخه درلوده. جلالتمآب ویسرا غواړي چي تاسي په دغه برخه کي اقدام وکړی... » Angus Hamilton. Afghanistan P479

البته امیر پرله پسې د قبایلو په ښورښونو او د برتانیې پر پوستو باندي په حملو کي د افغانانو پر برخي اخیستلو باندي انکار کوي او وایسرا ورته لیکي چي ستاسي له قلمرو څخه افغانان له ډولونو او بیرغونو سره را روان دي او د هډې له ملا سره همکاري کوي.

وایسرا د خپل اوږده لیک په دوام لیکي چي زه به اپرېدیو او بلي هري قبیلې ته چي د برتانیې پر پولو او حکومتي تاسیساتو باندي حملې کوي داسي جواب ورکړم چي هغوی ته د برتانیې د حکومت زور معلوم سي. البته زه په دې خبري خوشاله یم چي تاسی په دربار کي هغه رپوټونه غلط بللي دي چي وایي د برتانیې پوځیان پر کابل باندي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

حملې ته تیاری کوي. تاسي جلالتمآب ته ښه معلومه ده چي تر څو پوری تاسي د برتانيي د حکومت په مقابل کي خپلو مسوولیتونو ته متوجه اوسی د هند حکومت به په عزت او حیثیت پر خپلو وعدو باندی ودرېږي او ستاسي جلالتمآب د حکومت ملاتړ به کوي. Ibid PP 482-83

البته انګلیسیان هيڅ وخت پر خپه وعده باندي نه دي درېدلي او وروسته به يې موږ د ایران او افغانستان سره څو پرله پسي متضادو قراردادونو ته اشاره وکړو. انګرېزانو له امیر عبدالرحمن خان سره په ۱۹۸۰ کال کي ژمنه کړې وه چي د خارجي يرغل په مقابل کي به د افغانستان څخه دفاع کوي مګر کله چي امیر عبدالرحمن خان په ۱۸۸۵ کال کي د هند له ګورنر جنرال لارډ ډوفرین سره خبري کولې په دغه ترڅ کي پر پنجده باندي د روسانو د يرغل او د هغی سیمي د نیولو رپوټ ورته ورسېدی. امیر ګورنر جنرال ته وويل چي ستاسي حکومت زما سره ژمنه کړې وه چي د خارجي يرغل په مقابل کي به مي دفاع کوی. ګورنرجنرال ورته وويل چي که روسانو بل ګام واخیست نو دا به له هغوی سره د جنګ د اعلان يو عامل وي. امیر عبدالرحمن خان په ريشخند آميزه توګه ګورنرجنرال ته وويل چي د برتانيي حکومت اعلان کړی ووچي پر افغانستان باندي به د خارجي يرغل په شا تمبولو کي زما سره مرسته کوي نو د ا حقيقت او پر ځای خبره ده چي افغانستان باید د انګرېزانو سره اوږه پر اوږه ودرېږي. Arnold Flether. Afghanistan Highway of Conquest P 160

فليچر ليکي چي د امیر مطلب دا ووچي افغانستان به احمق وي چي د خارجي قدرتونو په قولونو غولېږي او برتانيي چي هره وعده وکړي ده د شرايطو او وضع له تغيير سره، په شبېه کي، بيرته هيريږي. کله چي په ۱۸۹۵ کال کي لارډ کرزن Lord Curzon له امیر عبدالرحمن خان سره خبري کولې نو امیر ته يې وويل چي کله روسانو پر پنجده باندي حمله کوله په هغه وخت کي د ده ګوند په قدرت کي نه وو بلکه حکومت د ګلیډ ستون د ليبرال ګوند په لاس کي وو. امیر پر دې خبري باندي په قاه قاه وخندل او کرزن ته وويل چي له بده مرغه زه پيغمبر نه يم چي دا راته معلومه وي چي وروسته به قدرت د کوم ګوند لاسته لوېږي. Ibid

امیر عبدالرحمن خان په دې پوهېدی چي د دوو قوي ګاونډيانو په منځ کي پروت دی او هره ورځ باید د هغوی حرکاتو او مقاصدو ته متوجه وي. امیر، سره له هغه چي تر روسانو يې له انګرېزانو سره دوستی ته ترجېح ورکوله مګر په انګرېزانو يې هيڅ وخت اعتماد نه درلود او په خپل کتاب کي يې، که څه هم په نامه انګرېزانو ته اشاره نه ده کړې، د هغوی پر پاليسي باندي خپله بې اعتمادي ښودلې ده. فليچر د تاج التواريخ په حواله ليکي: « زه نه غواړم چي د کوم قدرت نوم یاد کړم .... ځيني هغي ژوري ( زالو) ته پاتيږي چي د انسان وينه تر هغه وخته پوري چي مړ کيږي زبيښي خو سړی درد نه احساسوي... ځيني قدرتونه نوي هيوادونه د قوې په زور نيسي نور يې په چل او فريب او خيانت نيسي او په هيوادونو کي د مشرانو ترمنځ بې اتفاقي ايجادوي او په جنګ يې سره اچوي او پخپله د پردې تر شا د هغوی ننداره کوي » Ibid P152

د امیر عبدالرحمن خان په تقريباً ۲۲ کلنه او د هغه د زوی امیر حبيب الله خان په اته لس کلنه پاچهي کي يکي يو ملکي او نظامي انګرېز، د هغوی له اجازې پرته، د افغانستان خاوري ته داخل سوی نه دی. د پلار او زوی د قددرت په دې ځلوېښت کلنه دوره کي انګليسيانو، سره له هغه چي دواړو اميرانو ته يې مستمري ورکوله، په کابل يا کوم بل ښار کي په خپلو نمايندګيو کي يو انګليس مقرر نه کړ او نه يې کولای سوای. د دواړو پاچاهانو په زمانه کي په کابل او کندهار کي د انګرېزانو سياسي استازو د بنديانو په څېر ژوند کاوه. هيچا له هغوی سره تماس نه سو نيولای او هغوی هم هيڅ وخت د امیر دربار ته له مخکنی اجازې پرته ورتللای نه سوای. انګوس هميلټن ليکي: « په کابل کي د برتانيي استازی ډېر خراب ژوند لري. له هغه سره هيڅ اروپايي نه ويني. هغه يوازي د امیر په عمومي دربار کي ليده کيږي او که له امیر سره ګوري نو بايد چي اجازه واخلي. په خلاصه توګه ويلای سم چي هغه د يوه بندي حيثيت لري. کله چي دربار ته ولاړ سي له هيچا سره نه سی کتلای او حتی ډېر لږ له نمايندګی څخه بهر وزي. که چيري کوم اروپايي وليده سو چي د برتانيي له استازي سره او يا د نمايندګی له کوم غړي سره خبري کوي نو سمدستي له افغانستان څخه ايستل کيږی. هيڅ افغان د برتانيي نمايندګی ته د ننوتلو اجازه نه لري او هيڅ انګليس هم د برتانيي له استازي سره نه سي ليدلای. حتی که څوک د برتانيي له نمايندګی سره نيژدې وليده سي هم ښايي ونيول سي... » Angus Hamilton. Afghanistan P373

د امیر حبيب الله خان په زمانه کي د انګليسيانو استازو تر دې بهتره وضع نه درلوده او حتی امیر حبيب الله خان د خپلي پاچهی په لومړی لسيزه کي د انګرېزانو پر ضد له مجاهدينو سره مستقيمي مرستي کولې. څوک چي په دې برخه کي له زياتو تفصيلاتو سره علاقه لري د همدغه افغان جرمن سايټ په آرشيف کي زما مستند مضمون « نالوستي ليکونه » لوستلای سي.

امیر حبيب الله خان له ۱۹۱۵ څخه د خپلي پاچهی تر پايه پوري د هند د خپلواکی لپاره موقت حکومت ته د فعاليتونو اجازه ورکړې وه او راجا مهيندراپراتاپ، مولوي برکت الله او مولوي عبيدالله سندهي او له هند څخه



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په څير و لولئ

راغلو ځوانانو د هغه هیواد د خپلواکۍ لپاره ازاد فعالیتونه کول. د وریښمینو لیکونو په ګناه، چي مولوی عبیدالله سندهی له کابل څخه واستول، په هند کي په سل ګونو آزادي غوښتونکي ونیول سول مګر امیر حبیب الله خان مولوي عبیدالله سندهي ته، چي په کابل کي یې فعالیت کاوه، هیڅ ونه ویل. په دې صورت کي به نو سړی څرنګه خپل مشران او پاچاهان د انګرېزانو ګوډاګیان او لاسپوڅي وبولي؟

د ډیورنډ د منحوسي کرښی د منسوخولو لپاره د امیر عبدالرحمن خان او حبیب الله خان کوښښونو او فعالیتونو نتیجه ورنه کړه او بالآخره اعلیحضرت امان الله خان هم د افغانستان د استقلال د اخیستلو او هم د ډیورنډ د کرښی د له منځه وړلو لپاره له انګلیسیانو سره د جنګ اعلان وکړ او په دریو جبهو کي یې لښکرکښی پیل کړه. البته له انګلیسیانو سره یې په هیڅ توګه زور برابر نه وو. هغه یوازي د استقلال په ګټلو قناعت وکړ او د ډیورنډ کرښه پر هماغه پخواني حالت پاته سوه. که څه هم چي اعلیحضرت امان الله خان د خپلي پاچهی تر پایه پوري هم د مرکزي اسیا له مجاهدینو او هم د هند له آزادي غوښتونکو سره خپل تماسونه جاري وساتل.

د ډیورنډ کرښه په وچ زور ایستل سوې ده. برتانیه له اروپا څخه راغلې او دلته یې، د هغوی د خپل سفیر په قول، یو ملت په غیر منطقي توګه په پر دوو برخو وېشلی دی. کله چي د برتانیې خپل سفیر دا کرښه غیر منطقي بولي موږ به د هغې د ردولو لپاره کومو حقوقي او قانوني دلایلو ته اړتیا ولرو؟ که څوک د دې ظالمانه او غیر منطقي کرښي له منځه وړل غواړي نو منطق او استدلال ته ضرورت نسته. دا د کرښی پر دواړو غاړو باندي د وېشل سوي پراته ملت او اولسونو کار دی چي د بیرته یو ځای کېدلو په برخه کي فیصله وکړي او کله چي هغوی فیصله وکړي نو بیا یې مخه څوک را ګرځولای نه سي.

## اولسونه چي سند وبله وکا «««««««««« پادشاهان ورته سجود کاندي اختیار

بده به نه وي چي په نولسمه پېړۍ کي د ایران او افغانستان له حکومتونو سره د برتانیې د حکومت هغو تړونونو ته یو نظر وکړو چي نه یې د ملت اراده پوښتلې او نه یې د خپل تړون د ماتولو په برخه کي یوه شبېه شرم کړی دی.

د نولسمی پېړۍ په سر کي چي پر هند باندي د سدوزي شاه زمان د حملو خطر او له ټیپوسلطان او ناپولیون سره د هغه د اتحاد احتمال له برتانیې سره وېره پیدا کړې وه نو د برتانوي هند حکومت خپل استازی کپتان جان مالکم د ایران دربار ته واستاوه او د هغه هیواد له پاچا فتح علیشاه قاجار سره یې د افغانستان په مقابل کي د دوستی یو نظامي تړون لاسلیک کړ. د هغه تړون په اساس د ایران دولت ژمنه وکړه چي پر افغانستان باندي حمله کوي او هغه هیواد به نه پرېږدي چي په هند کي د برتانیې ګټو ته خطر پېښ کړي.

دوهمه ماده: که چیري د افغانستان بادشاه پر هندوستان باندي، چي اوسېدونکي یې د انګلستان د باچا رعایا دي، د حملې کولو فیصله وکړي نو د ایران شاهنشاهي دولت به یو لوی او قوي لښکر، چي ټول مهمات او لوازم به ورسره وي، افغانستان ته لېږي. هغه مملکت به خرابوي او خپل ټول کوښښ به کوي چي هغه مملکت به بشپړه توګه مضمحل سي او بیا د سر پورته کولو توان ونه لري.

دریمه ماده : که د افغانستان پاچا له ایران سره دوستی ته زړه ښه کوي نو په هغه صورت کي باید د ایران دولت له هغه څخه دا تضمین ترلاسه کړي چي پر هندوستان باندي به، چي د انګلستان د پاچا قلمرو دی، په هیڅ صورت حمله نه کوي او دا خیال باید له سره وباسي. محمودمحمود. تاریخ روابط سیاسي ایران و انګلیس ص ۳۴

دا وخت د شاه زمان ورور شاه محمود د ایران دربار ته پناه وړې وه او وروسته فتح خان هم ورسره ملګری سوی وو. دوی دواړو د ایران په مرسته د هرات له لاري د کابل پر لور لښکر رهي کړ. کپتان مالکم له اصفهان څخه د هند وایسرا ته ولیکل: « زمانشاه نور نه سی کولای چی زموږ لپاره په هندوستان کی ستونزي منځته راوړي. هغه به د خدای په مرسته په راتلونکو کلونو کي دونه مشکلات ولري چي د فکر کولو فرصت به هم پیدا نه کړي» هغه کتاب ص ۴۵

د نولسمي پېړۍ په لومړۍ لسیزه کي په اروپا کي ناپولیون دونه شهرت پیدا کړی وو چي هر چا د یوه داسي غښتلي قهرمان په ستر ګه ورته کتل چي شکست له سره نه پیژني. دغه علت وو چي له هند څخه ټیپوسلطان او له کابل څخه شاه زمان د هغه مرستي ته سترګي نیولي وې. د ۱۸۰۷ کال د مې په میاشت کي د فرانسې یو هیأت ایران ته سفر وکړ. فرانسې غوښتل چي د برتانیې پر ضد متحدین پیدا کړي ځکه یې نو د ایران خواته مخه کړې وه. فرانسې له ایران سره د دوستی یو مفصل تړون لاسلیک کړ او په هغه کي د برتانیې سره څرګنده دښمني ذکر سوی وه.

اتمه ماده: د ایران پاچا تعهد کوي چي له برتانیې سره خپل ټول سیاسي او تجارتي اړیکی وشلوي  او له هغه دولت سره جنګ اعلان کړي او د یوه دښمن په حیث سلوک ورسره وکړي...

نهمه ماده: په هر جنګ کي چي روسیه او انګلیس د ایران او فرانسې پر ضد عمل وکړي فرانسه او ایران هم باید د هغوی پر ضد اتحاد وکړي....



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

لسمه ماده : د ایران پاچا باید خپل ټول کوښښ وکړي چي د قندهار اولسونه، د انګلیسیانو پر ضد، له ځان سره ملګري کړي او په هند کي د انګلیسیانو د متصرفاتو پر ضد لښکر واستوي. هغه کتاب ص ۶۸

برتانیې هم وضع له نیژدې څارله او خپل استازی مونسټارټ الفینسټون یې، له افغانستان سره د دوستی د یوه تړون د لاسلیک کولو لپاره، د شاه شجاع دربار ته واستاوه. شاه شجاع دا وخت په خپل ژمني پایتخت پېښور کي وو او د انګلیسیانو له هیأت سره یې په هماغه ښار کي وکتل او د دوستی تړون یې ورسره لاسلیک کړ.

لومړۍ ماده: څرنګه چي فرانسې او ایران د کابل پر ضد تړون لاسلیک کړی دی نو که دوی د پاچا په قلمرو کي د تېرېدلو کوښښ وکړي نو د اسماني تخت د څښتن پاچا نوکران باید د هغوی د تېرېدلو مخه ونیسي او په شا یې وتمبوي او اجازه ورنه کړي چي د هغه په خاوره کي د برتانوي هند خواته تېر سي.

دوهمه ماده: که د فرانسې او ایران دولتونه، د خپل تړون په اساس، د کابل د پادشاه قلمرو ته د دښمنی په نیت ننوزي نو د انګلستان دولت به په ډېره خوښي د هغوی دفع کولو ته حاضر سي او دا خپله وظیفه بولی چی د خپل وس سره سم د لښکرو خرڅ برابر کړي. تر څو پوری چي د ایران او فرانسې د دولتونو ترمنځ تړون په خپل قوت پاته وي د انګلستان او افغانستان د دولتونو ترمنځ به دا قرارداد باقي وي او دواړه دولتونه به د هغه د موادو سره سم عمل کوي.

دریمه ماده: د دواړو دولتونو ترمنځ به هغه اتحاد او دوستي چي اوس منځته راغلې ده تر ابده دوام کوي او د دې دواړو دولتونو ترمنځ به هیڅ ډول نفاق موجود نه وي او هیڅ خوا به د یوه بل په داخلي چارو کي مداخله نه کوي. او د کابل پاچا به هیڅ فرانسوي ته اجازه نه ورکوي چي د هغه قلمرو ته داخل سي. Bilgrami. Afghanistan and British IndianPP 283-84

لوستونکو ته دي معلومه وي چي د ایران او فرانسې د ۱۸۰۷ کال په تړون کي د افغانستان سره د دښمنی او یا د هغه هیواد پر ضد د تړون موضوع بیخي یاده سوې نه ده بلکه انګلیسیانو یوازي د خپل سیاسي مطلب لپاره د افغانستان پر ضد د دواړو هیوادونو د تړون مسله ور زیاته کړې ده. البته دا هغه افغانستان وو چي نهه کاله وړاندي برتانیې له ایران سره د هغه پرضد تړون لاسلیک کړی وو.

سرجان کې، د وروستیو تړونونو په باره کې، په خپل کتاب کي لیکي: « ... څرنګه چي د تیري پېړۍ په پای کي افغانستان برتانوي هند تهدیداوه او په وروسته کي هغه هیواد له زوره ولوېدی او نور یې هند ته خطر نه سوای متوجه کولای. موږ چي پخوا د فرانسې او افغانستان په مقابل کي د ځان څخه د دفاع او ساتلو لپاره له ایران سره د دوستی تړون لاسلیک کړی وو اوس زموږ پالیسي داسي سوه چي له ایران سره دښمني پیل کړو نو مو د افغانستان او سند خواته مخه کړه تر څو د لوېدیځ له لوري د یرغل په مقابل کي له دغو قدرتونو څخه کار واخلو او دغه راز د فرانسې او ایران په مقابل کي د سیکهانو پر دوستی باندي تکیه وکړو. Kaye. History of the War in Afghanistan Vol 1 P54

د مورخ سرجان کې خبري بالکل پر ځای دي. د فرانسې او ایران ترمنځ دوستی ځکه ډېر دوام ونه کړ چي فرانسې له خپل زاړه دښمن روسیې سره، چي د ایران دښمن هم وو، دوستي پیل کړه او نور نو ایران هغه هیواد ته دا تمه نه سوای کولای چي ګوندي د ګرجستان او قفقاز سیمي به له روسیې څخه ورته واخلي او له بلي خوا ناپولیون هم لکه یو ناڅاپه چي د توپان په څېر د اروپا په هیوادونو کي څرګند سوی وو همداسي توند باد ورسره یووړ او قدرت ورته پاته نه سو. هم برتانیې د ایران خواته مخه کړه او هم ایران بیرته د برتانیې خواته مخ واړاوه او ضمناً برتانیې له افغانستان سره د دوستی هغه تړون ته شا کړه چي ویل یې تر قیامته به دوام کوي او دې په اصطلاح دایمي دوستی ایله پنځه کاله دوام وکړ او برتانیې په ۱۸۱۴ کال کي له ایران سره د دوستی تړون لاسلیک کړ. په دې تړون کي یې، پرته له دې چي د افغانستان له خوا کوم خطر ورته متوجه وي، له افغانستان سره د دښمنی اظهار وکړ.

اتمه ماده: که چیري افغانستان له برتانیې سره جنګ کاوه نو د ایران پاچا به په مناسبه اندازه لښکر د هغوی پر ضد استوي او لګښت به یې د برتانیې حکومت پرې کوي چي د لګښتونو په برخه کي به یې دواړه خواوی یوه توافق ته رسیږي.

نهمه ماده: که د افغانستان او ایران تر منځ جنګ پیل کیږي نو د برتانیې حکومت به تر هغه وخته مداخله نه کوي تر څو چي دواړو خواوو د منځګړتوب غوښتنه ورڅخه کړې نه وي. Bilgrami P286

انګلیسیانو ته به دا چا ویلي وای چي له افغانستان سره دونه زور له کومه سو چي هغه دي هندوستان ته دونه لوی خطر پیښ کړي چي د برتانیې دولت دی د ایران څخه مرستي غوښتلو ته اړ کړي. له زورور څخه به چا پوښتنه کړې وای؟



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په ۱۸۲۸ کال کي روسانو له ايران سره د ترکمان چای په نوم معاهده لاسلیک کړه. په دې تړون کي ايران خپل ډېر زيات ولايات او سيمي له لاسه ورکړل او د روسانو د خاوري يوه برخه سوه. روسانو د ۱۸۳۵ په شاوخوا کي د ايرانيانو د زړونو د ترلاسه کولو لپاره هغوی پر هرات باندي حملي ته تشويق کړل. البته روسانو دوه هدفه درلودل يو دا چی له ايران څخه يې مخکی يې لاندي کړی وې او په عوض کي يې د هرات په نيولو کي، چي ايرانيانو همېشه خپله خاوره بلله، د مرستي وعده ورکوله خو په حقيقت کی يې غوښتل چي د ايران سره د اتحاد په وسيله هرات ونيسي او هند ته لاره پيدا کړي ځکه چی د هرات ولايت هر وخت د هند د دروازې حيثيت درلود. په ۱۸۳۷ کال کي د ايران پوځونو د هرات پر لور حرکت وکړ او د روسانو بشپړ ډيپلوماتيکه، پوځي او مالي مرسته ورسره ملګري وه. برتانيي د هرات څخه د دفاع لپاره اقدامات پيل کړل او بالاخره يي ايران د جنګ په اعلان تهديد کړ او حتی د بوشهر په بندر کي يي عسکر پياده کړل. ايران پر شا تللو ته مجبور سو او برتانيي، چي له هرات څخه د ايران او روسيي د پرشا کېدلو څخه وروسته، پر افغانستان باندي د حملي کولو او د خپل ګوډاګي پاچا شاه شجاع د پاچا کولو لپاره هيڅ پلمه ورته پاته نه سوه بيا يي هم په سيمله کي يوه اعلاميه صادره کړه او پر افغانستان باندي يي د جنګي عملياتو د پيل کولو اعلان وکړ. انګليسی مورخ سرويليم کي پر افغانستان باندی د برتانيي هغه حمله چي هيڅ دليل يي نه درلود يوه خطا او جنايت بولي Kaye P369

پر افغانستان باندي د انګليسيانو د ۱۸۳۹ کال هغه حمله، چي هيڅ ډول موجه دليل يي نه درلود، د برتانيي اکثرو سياستمدارانو وغندله مګر لکه مخکي چي مو وويل چی د زور اوبه مخ په لوړه خيژي؛ برتانيي ته هيچا هيڅ ونه ويل. د دې ټول تفصيل څخه مې مطلب دا وو چي تر څو پوري افغانستان يو کمزوری او بې اتفاقه هيواد وي هميشه به يي پر حقوقو تجاوز کيږي او تېری او تجاوز هيڅ وخت منطق او قانون ته ضرورت نه لري. د ديورنډ کرښه د برتانوي استعمار د زور او جبر محصول ده او دې خبري ته چنداني ضرورت نسته چي د دې کرغېړني او ظالمانه کرښي پر قانونيت او نه قانونيت باندي بحثونه وکړو. د افغانستان د مهاجرينو پر انساني او بين المللی حقوقو چي دغه ګړی ايران او پاکستان کوم تېری پيل کړی دی د دې منطق به له چا څخه پوښتو؟

## مأخذونه


۱: محمود، محمود. تاريخ روابط سياسي ايران و انګليس در قرن ۱۹. چاپ چهارم، تهران ۱۳۵۳.
2: Kaey, John William. History of the War in Afghanistan Vol 1. Indian Reprint 1999.
3: Hamilton, Angus. Afghanistan. London 1906.
4: Macmunn, Lt. General Sir George. Afghanistan from Darius to Amanullah. Pakistan Second Reprint 1978.
5: Bilgrami, Asghar. Afghanistan and British India. New Delhi 1974.
6: Elliott, Major-General J.G. The Frontier 1839-1947.
7: Fletcher, Arnold. Afghanistan Highway of Conquest. New York, 1966.
8: Tytler, W.K Fraser. Afghanistan a Study of Political Developments in Central and Southern Asia.




افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په څير و لولئ